UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

ملګری ملتونه د جګړې له ښکیلو خواوو غواړی تر څو د ماشومانو د مخ پر زیاتیدونکي مرګ ژوبلی د مخنیوی لپاره لازم اقدامات ترسره کړي

کابل د ۲۰۱۷ کال د می ۱۵ مه – په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په ۲۰۱۷ کال کې د جګړې له امله د ماشومانو د مخ پر زیاتیدونکي مرګ ژوبلې په اړه ژوره اندیښنه لري او د جګړې په ښکیلو خواوو غږ کوي تر څو ماشومانو ته د زیان د راتیټولو په برخه کې چټک اقدامات تر لاس لاندې ونیسي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي، تدامیچي یاماموتو وویل: " د هاوان د ناچاوده مرمۍ له امله پرون د یوی کورنۍ د پنځه ماشومانو وژل کیدل یو زړه بوګنونکی خبر و چې ما ترلاسه کړ. دغه ماشومانو چې کله له خپل کور نه بهر لوبې کولې د هاوان دغه مرمۍ یې وموندله، چې د ورځې په لمړیو کې د جګړې په ترڅ کې د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې پاتې شوې وه. یوه کورنۍ د ثانیو په ترڅ کې له منځه ولاړه – دغه وحشت یواځې یو له هغو ډیرو پیښو څخه ده چې د جګړې د دغه فصل له پیل څخه ثبت شوې ده."

له هغې مودې را هیسې چې دغه ماموریت د ماشومانو د مرګ ژوبلې د شمیرو ثبتول پیل کړي، د ۲۰۱۷ کال په لمړیو څلورو میاشتو په اوږدو کې مور د ماشومانو د یو زیات شمیر مرګ ژوبلې شاهدان وو، چې د جګړې له امله په افغانستان کې را منځ ته شوې. د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ د لمړۍ نه د اپریل تر ۳۰ مې یوناما د ۹۸۷ ماشومانو مرګ ژوبله (۲۸۳ وژل شوي او ۷۰۴ ټپیان) ثبت کړې چې د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ماشومانو په مرګ ژوبله کې ۲۱ سلنه زیاتوالی ښیي.

په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې په ملکي میشته سیمو کې د نامستقیمه او یاهم د چاودیدونکو توکو د کارونې له امله او همدارنګه د ناقانونه بې هدفه تعبیه شویو چاودېدونکو توکو له امله د ماشومانو د مرګ ژوبلې په کچه کې زیاتوالی راغلی. د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه د اپریل تر دیرشمې ځمکنۍ جګړه د ۱۱۸ ماشومانو د وژنې لامل شوې چې د ټولې مړینې ۴۲ سلنه جوړوي. د یکشنبې په ورځ د استوګنې په یوه سیمه کې د هاوان مرمۍ د لګیدو له امله د دوو نجونو مړینه او د دوو ښځو تر څنګ د ۷ نورو ماشومانو ټپي کیدنه چې د فاریاب ولایت په پښتون کوټ ولسوالۍ کې یې یو کور په نښه کړ، هغه خطرونه بیانوي چې ډیرې افغان ماشومان ورسره مخ دي.

له ځمکنۍ جګړې وروسته، له جګړې پاتې ناچاوده توکو د ډیرو ماشومانو ژوند اخیستی، چې ۵۰ تنه یې وژلي دي. د روان زیږدیز کال د اپریل تر دیرشمې، د هوایي بریدونو له کبله ۴۴ ماشومان وژل شوي او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ۳۸ ماشومان وژلي دي. همدارنګه فشاري ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي، چې د قربانیانو له لوري فعالیږي، ملکي وګړي له لوی خطر سره مخ کوي، چې د ناچاوده ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو له ۳۸ قربانیانو څخه ۲۷ یې په نښه کړي.

د ۷۰۰ څخه زیاتو ماشومانو له ډلې څخه، چې په جګړه ییزو پیښو کې ټپیان شوي، ډیرو یې ژوند بدلوونکي زیانونه لیدلي، چې د بدن د غړو له لاسه ورکول او زهني زیانونه پکې شامل دي لکه د کورنۍ د غړو، پلرونو، میندو د مړینې لیدل او همدارنګه د کورونو ورانیدل او له کورڅخه کډه کیدل.

یوناما یوځل بیا په جګړه کې له ښکیلو ډلو څخه غواړي، چې د ماشومانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي، او په داسې حال کې چې د ۲۰۱۷ کال موسمي جګړې روانې دي، له پوره احتیاط څخه کارواخلي او د جګړې په اوږدو کې د ملکي وګړو د زیان کچه راتیټه کړي، په ملکي سیمو کې د غیر مستقیمو چاودیدونکو توکو کارول بند کړي په تیره بیا په هغو سیمو کې چې د ملکي او غیر ملکي کسانو تر منځ توپیر نشي یقیني کیدای.

یوناما د دولت د ژمنتیا هر کلی کوي، چې د متعارفو وسلو د ۱۹۸۰ کنوانسیون پنځم پروتوکول یې تصویب کړ. یوناما په جګړه کې ټولې ښکیلې ډلې هڅوي تر څو دخپل کنترول لاندې جګړه ییزو سیمو کې له جګړو څخه پاتې ناچاوده توکي په نښه، راټول او له منځه یوسي.

* * *

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د دوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چاري وراندې کوي. "د ښه نیت چاري" هغه دیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داری د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږي پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.